Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتنو قامي جرګې

## د شپږو جرګو متفقه لا سلیک شوې اعلامیې

لیکوال

ح حقویش

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱) عوامي نشنل ګوند ـ مارچ ۲۰۲۰
(۲) مزدور کسان ګوند ـ اګست ۲۰۲۱
(۳) پښتونخوا ملي عوامي ګوند ـ مارچ ۲۰۲۲
(۴) عوامي نشنل ګوند ـ اګست ۲۰۲۲
(۵) پښتون ژغورنې غورځنګ ـ اکتوبر ۲۰۲۴
(۶) عوامي نشنل ګوند ـ جولائي ۲۰۲۵

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قامي جرګې

پر افغان خاوره که څه هم جرګې یو تاریخي پړاو لري، خو په پښتونخوا وطن کې په دې نژدې موده کې قامپالو تحریکونو پنځه د پښتانه قام لویي جرګې راوبللې چې د قام د ناخوالو او بدبختیو له سنجش وروسته یې د قام د ښه سباوون لپاره مهمې پرېکړې کړې دي. که څه هم په ۱۹۹۰ لسیزه کې د پښتنو د جرګو یوه ورته لړۍ د سوات د افضل خان لالا لخوا پیل شوې وه، د افضل خان لالا د پښتنو وروستۍ جرګه د ۲۰۱۲ز کال په مئ میاشت کې د پېښور په نشتر هال کې جوړه شوې وه چې پکښې د پښتنو د ملي یووالي د کمپاین او په جګړه ځپلي افغانستان کې د میلیونونو افغانانو د وژل کېدو د اعتراض په اړه خبرې شوې وې.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرېکړه لیک

# پښتون قامي جرګه/ پېښور

## ۲۰۲۰ز کال د مارچ ۱۰مه

## کوربه: عوامي نشنل ګوند

دا جرګه د ۲۰۲۰ز کال د مارچ پر لسمه په احمد شاه بابا تالار، باچا خان مرکز پېښور کې وشوه چې پکښې پښتون ژغورنې غورځنګ، پښتونخوا ملي عوامي ګوند، قومي وطن ګوند، عوامي نشنل ګوند، مزدور کسان ګوند، پیپلز ګوند، مسلم لیګ(ن) او جمعیت علمای اسلام ګوند پشمول د بېلابېلو سیاسي ګوندونو سره تړلو کسانو ګډون کړی وو. یادې جرګې د پښتون قام سره تړلې ۲۲ پرېکړې وکړې:

1- په افغانستان کې د امن تامین او د افغانستان د خپلواکۍ درناوی:



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د جنګ له کبله عام افغانان او د ډیورنډ کرښې دواړو خواو ته پراته پښتانه تر ټولو زیات اغېزمن شوي دي. "پښتون قامي جرګه" د افغانستان دننه د خبرو اترو عمل ته هرکلی وایي او په دې خبره زور راوړي چې د افغان ریاست په پیاوړتیا کې ګاونډي هېوادونه او د نړۍ نور قوتونه د سهولت کارۍ کردار ادا کړي. "پښتون قامي جرګه" د بین الافغاني مذاکراتو بریالیتوب د افغانستان او سیمې د امن ضمانت ګڼي او په ټولو ډلو زور راوړي چې د افغانستان د خپلواکۍ درناوی دې د بین الاقوامي قوانینو په رڼا کې وکړي، جرګه په افغانستان کې د بهرنیو مداخلیو د ودرولو غوښتنه کوي. په پاکستان کې ترهغې پورې امن نه شي راتللی، ترڅو چې افغانستان کې امن نه وي راغلی.

2- په پښتني سیمو کې ترهګري او د ترهګرو ډلو بیا منظم کېدل:



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تاريخ کې پښتنو ته تر ټولو زيات زيان په تېرو څو لسيزو کې په دې خاوره د رواني ترهګرۍ له کبله رسېدلی دی، په پښتون وطن کې يو لړ پوځي عملياتو چې پښتون قام ته لوی زيانونه ورسول، د هغو پوځي عملياتو برسېره هم ترهګر په پښتون وطن کې په ازاده توګه فعاليت کولی شي او بيا له نوي سره منظم کيږي. "پښتون قامي جرګه" له رياست څخه غوښتنه کوي چې دا عمل دې په زغرده ودروي او د ټولو پرائېوېټ ملېشاو خلاف دې قانوني کاروايي وکړي. "پښتون قامي جرګه" غوښتنه کوي چې د پښتنو تحفظ دې يقيني کړی شي او د هر ډول ماوراء ائين فعاليتونو مخنيوی دې په زغرده وشي.

3- د بې کوره شويو پښتنو بيا ابادول:

په پښتونخوا وطن او په ځانګړې توګه نويو ضلعو کې چې د ترهګرۍ او پوځي عملياتو په نتيجه کې په کومه پراخه کچه پښتانه بې کوره شوي دي، د هغوی زر ترزره ابادول



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رياستِ پاکستان ذمه واري ده. "پښتون قامي جرګه" په کلکه غوښتنه کوي چې بې کوره پښتانه نه يواځې دا چې بېرته دې په خپلو کورونو کې اباد کړی شي، بلکې دغو ځپلو شويو پښتنو ته دې پوره معاوضه ورکړل شي او هغوی ته دې د کاروبارونو زمينې مساعدې کړې شي، له باجوړ څخه تر وزيرستانونو پورې او له چمن څخه تر چتراله پورې چې د پښتنو د شتمنيو کومه تباهي شوې ده، د هغوی بازارونه او مارکيټونه نړول شوي دي، "پښتون قامي جرګه" غوښتنه کوي چې ددې تاوانونو دې زر ترزره تلافي وکړل شي.

4- د بې درکه خلکو مسئله:

"پښتون قامي جرګه" د بې درکو پښتنو مسئله په جدي توګه راپورته کوي او په کلکه دا غوښتنه کوي چې څومره پښتانه هم بې درکه کړل شوي يا مسنګ پرسنز (Missing persons) ګرځول شوي دي، هغوی دې زر ترزره عدالت ته پېش کړل شي، د پښتنو دا نمائنده



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرګه په شریکه او څرګنده دا خبره کوي چې مونږ هیڅ یوې ریاستي ادارې ته دا اجازه نه ورکوو چې پښتانه دې اوچت کړي او له ځانه سره دې یې د مسنګ پرسنز په توګه وساتي.

## 5- د لېنډ مائنز صفايي:

په جنګ ځپلو پښتني سيمو کې چې د رياست امنيتي ادارو کوم لېنډ مائنز خواره کړي دي، چې په نتيجه کې يې پښتانه بچي، ښځې، ځوانان او بوډاګان د مرګ ژوبلې له زړه چاودونکو پېښو سره په ورځني بنياد مخامخ کيږي، دغه لېنډ مائنز دې په هنګامي بنيادونو ليري کړل شي او د بشري حقونو د داسې سرغړونو مخنيوی دې يوه جدي مسئله وګڼل شي.

## 6- په نويو ضلعو کې انتظامي، قانوني او سياسي اصلاحات او ترقي:



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د نويو ضلعو د بيا ودانۍ کار تر اوسه د زباني جمع خرچ تر حده روان دی، "پښتون قامي جرګه" غوښتنه کوي چې پنځويشتم ائيني ترميم دې په حقيقي توګه نافذ کړل شي.

-7 اتلسم ائيني ترميم او اين ايف سي ايوارډ:

اتلسم ائيني ترميم دې په حقيقي توګه ومنل شي، ددې ترميم د تخريبولو له هڅو دې لاس واخستل شي، د اين ايف سي ايوارډ له پنځو کلونو څخه اجراء نه کول يو غېر ائيني اقدام دی، زر ترزره دې د اتلسم ائيني ترميم په رڼا کې د اين ايف سي ايوارډ اجراء وشي.

-8 د بجلۍ خالص منافع:

"پښتون قامي جرګه" غوښتنه کوي چې د بجلۍ د خالصې ګټې تفصيلات دې وړاندې کړل شي او دا ګټه دې زر ترزره صوبو ته حواله کړل شي، ځکه چې په بجلۍ او نورو قدرتي وسايلو فطري او ائيني ملکيت د قامونو دی او د ملکيت دا



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق تسلیمول د وفاق د قایم ساتلو او پرمختګ د پاره ضروري دی.

9- د اوبو ملکیت:

د اٰبي وسایلو یا اوبو ملکیت او اختیار دې صوبو ته وسپارل شي او هم داسې چې په دې مورد کې ځومره معاوضه مرکز ته پاتې ده، هغه دې هم زر ترزره صوبې ته وسپارل شي.

10- قومي وسایل او منرل ایکټ:

د پښتنو په قامي وسایلو له یوې اوږدې مودې د منظمې قبضې دسیسې روانې دي، ددغو دسیسو مخنیوی د وفاق د پایښت او د پښتنو د ازادو ښهریانو په توګه په وفاق د اعتماد ضمانت دی، "پښتون قامي جرګه" منرل ایکټ خېبر پښتونخوا د پښتنو په قامي وسایلو یوه بدترینه ډاکه ګڼي او غوښتنه کوي چې په وسایلو دې لومړی حق او اختیار د مقامي خلکو ومنل شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



11- په پښتونخوا وطن کې له نوي سره سرشمېرنه:

"پښتون قامي جرګه" په ۲۰۱۷ز کال کې شوې سرشمېرنه د پښتونخوا وطن بالخصوص د نويو ضلعو د سرشمېرنې په هکله په درغلۍ ولاړه ګڼي، جرګه غوښتنه کوي چې په پښتونخوا وطن کې دې له نوي سره سرشمېرنه وشي.

12- بلاک شناختي کارډونه:

"پښتون قامي جرګه" غوښتنه کوي چې د پښتنو د بلاک شناختي کارډونو مسئله دې زر ترزره حل کړل شي.

13- نصاب او تعليم:

د اتلسم ائيني ترميم لاندې د تعليمي پاليسۍ انتظام او د نصاب اختيار د صوبو سره دی، "پښتون قامي جرګه" د مرکز له خوا د "يکسان تعليم" (Uniform Education) نفاذ د ائين څرګنده خلاف ورزي ګڼي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



14- جرګې د خيبر پښتونخوا په پوهنتونونو کې په مالي بدحالۍ او انتظامي کړکېچونو او بحرانونو باندې ژوره اندېښنه وښودله، جرګه د پوهنتونونو دننه د سيکېوريټائزيشن او جنسي زورونې د مسئلې په زغرده د حل کولو کلکه غوښتنه کوي، جرګه د پنجاب، بلوچستان او د ملک په نورو پوهنتونونو کې په ځانګړې توګه پنجاب پوهنتون، بهاء الدين زکريا پوهنتون او انټرنېشنل اسلامک پوهنتون کې په پښتنو محصلينو د تشدد او نسلي امتياز په سختو ټکو کې غندنه کوي، جرګه د طلباء يونينز د بحالۍ مطالبه کوي او د تعليمي ادارو د پرائيوېټائزيشن غندنه کوي.

15- په پاکستاني مېډيا کې د پښتنو سپکاوی:

د پاکستان په مېن سټريم مېډيا کې د پښتنو خلاف د نسل پرستۍ په بنياد پروپېګنډې يوه معمول بڼه خپله کړې ده، دې پروپېګنډې ته دې زر ترزره د پای ټکی کېښودل شي، په مېن سټريم مېډيا کې چې کوم ځای او حېثيت د پنجابي قام



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلتور، سیاست او مسایلو ته ورکړل کیږي، هم هغه ځای او حېثیت دې پښتون قام ته هم ورکول شي.

16- د رښتیاو کمېسون (Truth Commission) جوړول:

د پښتنو په وطن کې چې د ترهګرۍ په خلاف د جنګ پرمهال کوم جنګي جرمونه او جنایتونه شوي دي، د هغې د پلټنو تحقیقاتو دپاره دې په زغرده د رښتیاو مالومولو یو کمېسون جوړ کړل شي، د "خړ کمر" او د دغسې نورو پېښو دې عدالتي تحقیقات وشي.

17- تجارتي لارې:

دا جرګه غوښتنه کوي چې د افغانستان او پاکستان تر منځه دې ټولې تجارتي لارې پرانستل شي، جرګه دا غوښتنه هم کوي چې د پښتونخوا نوې ضلعې دې د لویو لارو په مرسته یو له بل سره وتړلې شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



18- سي پیک:

"په سي پیک کې د بلوڅانو د ملکیت او د پښتنو د برخې تعین تراوسه نه دی شوی"، جرګه له حکومته ددې وضاحت غواړي، د سي پیک په کمېټۍ کې دې بلوچستان، پښتونخوا او سندهـ ته استازیتوب ورکړل شي او د سي پیک مغربي لاره دې له یو بشپړ پېکېج سره یقیني کړل شي.

19- د پښتنو د زراعت تحفظ:

د پښتنو زراعت دې خوندي کړل شي او د پښتنو په قومي زراعت بالخصوص تمباکو باندې دې د هغوی د ملکیت حق تسلیم کړل شي.

20- اېکشن ان اېډ اف سول پاور اردیننس:

"پښتون قامي جرګه" دا اېکټ ردوي او ددې د بېرته اخستلو غوښتنه کوي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



21- د بلوچستان سيټونه بېرته بحالول:

"پښتون قامي جرګه" مطالبه کوي چې د بلوچستان د "شېراني" او "هرنائي" ضلعو صوبايي نشستونه دې بېرته بحال کړل شي او د کويټې او نورو پښتني سيمو حلقه بنديانې دې درستې کړل شي.

22- د روغتونونو پرائيوېټائزيشن:

دا جرګه د روغتونونو د پرائيوېټائزيشن عمل ردوي او غوښتنه کوي چې پښتونخوا وطن ته دې د صحت بهترين او لازمي سهوليات ورکول يقيني کړل شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرېکړه لیک

## پښتون قامي جرګه/ اشنغر

۲۰۲۱ز کال د اګست ۷مه

**کوربه: مزدور کسان ګوند**

د باچاخان مرکز په جرګه کې د مزدور کسان ګوند چئیرمېن افضل شاه خاموش لخوا په شمالي اشنغر کې د یادي قامي جرګې په نتیجه کې د شوي پرېکړلیک د عملي کولو لپاره د قامي مشاورتي غونډې اعلان وشو، چې دا جرګه بیا د ۲۰۲۱ز کال د اګست پر ۷مه د پېښور په چارسده کې وشوه چې د قامپالو ګوندونو ترڅنګ د نورو ډېرو ګوندونو مشرانو او غړو ګډون کړی و، دې جرګې بیا د باچاخان مرکز د جرګې په تسلسل کې ۹ پرېکړې وکړې:

1- د نړۍ د منلې شویو اصولو سره سم یو منتخب حکومت ته تحفظ ورکول د ټولو هېوادونو سیاسي او اخلاقي ذمه وارې وي دا جرګه په افغانستان کې په غیر جمهوري لار او



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زور زبردستي د منتخب حکومت د ړنګولو تينګ مخالفت کوي او غوښتنه کوي چې دواړه خواوې دې ژر ترژره اوربند وکړي او د افغانانو د نورې وينې بهيدلو مخنيوی دې وشي.

2- جرګه په دې خبره يو غږ ده چې له دې وروسته په هر پښتون شوی بريد به په پښتون قام بريد ګڼلی شي.

3- دا جرګه په افغانستان کې د امن او جمهوريت سياسي او اخلاقي ملاتړ او هلته د هر ډول تشدد او د ګاونډيانو له خوا د لاسو هنې غندنه کوي.

4- افغانستان کې موجوده سياسي ګوندونو، سازمانونو او تنظيمونو سره د دوه اړخيزو رابطو طريقه کار جوړول.

5- په افغانستان کې د امن په اړه په پاکستان کې سياسي ګوندونه يو دريځ ته راويستل او د شريکي تګلارې ټاکلو دپاره يوه کمېټي جرګه جوړول او د غيرسياسي او غيرپارلماني ادارو د اثر رسوخ او کردار د ختمولو هڅه.

6- پښتونخوا او د ملک نورو سيمو کې د غيراعلانيه ټرينينګ کمپونو مخالفت.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



7- په ضلعي کچه د ټولو سیاسي ګوندونو له خوا د مشترکه امن لاریون تابیا.

8- دا جرګه په افغانستان کې روان جنګ ناجایز او فساد ګڼي.

9- افغانستان کې د روانو حالاتو ذمه وارې په امریکا او د امریکا په اتحادیانو ده چې د دوحې خبرو کې یې خپلې ګټې خوندي کړې او افغانان یې لېوانو ته پرېښودل، جرګه ددې هم غندنه کوي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرېکړه لیک

# پښتون قامي جرګه/ بنو

# ۲۰۲۲ز کال د مارچ ۱۴مه

# کوربه: پښتونخوا ملي عوامي ګوند

دربیمه جرګه بیا د پښتونخوا ملي عوامي ګوند لخوا په بنو کې د ۲۰۲۲ز کال د مارچ پر ۱۴مه وشوه چې شاوخوا پنځه زره پښتنو مشرانو پکښې ګډون کړی وو، دې جرګې بیا ۲۵ پرېکړې وکړې، او دا جرګه هم د نورو پښتنو قامي جرګو په تسلسل کې وشوه، چې د پښتنو قامپالو ګوندونو ترڅنګ د نورو ډېرو ګوندونو مشرانو او غړو ګډون کړی وو:

1- دا نماینده پښتون قامي جرګه دې یوه مستقله اداره جوړه شي. دا نماینده پښتون قامي جرګه وړاندیز کوي چې د دې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرګې پرېکړو او اهدافو د عملي کولو دپاره دې همکاري او رابطه کاري یوه کمېټۍ جوړه شي چې د خپلو قامي اولسي ستونزو هوارولو دپاره هلې ځلې وکړي او د دې نماینده کمېټۍ تر نظارت لاندې دې ذیلي کمېټیانې جوړې شي، په دغه هکله دې په پښتونخوا وطن کې د قبایلي روغو لپاره یوه ذیلي کمېټۍ جوړه کړل شي.

2- په پاکستان کې دا مهال ایین (Constitution) په عملي توګه معطل دی. دا جرګه غوښتنه کوي چې په پاکستان کې دې حقیقي وفاقي پارلماني جمهوري نظام بحال کړل شي او په سیاست کې دې د استخباراتي ادارو لاسوهنه بنده کړل شي.

3- د پاکستان داخلي او خارجي پالېسیانو جوړښت او نفاذ دې صرف او صرف منتخب پارلمان په ذریعه وشي.

4- نماینده قامي جرګه دا غوښتنه کوي چې د افغانستان د لویې جرګې او د عامو انتخاباتو له لارې د ټولو اولسونو نماینده منتخب حکومت دې قایم کړل شي او په راتلونکیو کې دې د طاقت په زور حکومت نیولو عمل غېرقانوني او



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان ملت سره غداري وګڼل شي، او د عصرِحاضر د جهاني معياراتو سره سمون خوړونکی نظام دې پلي کړل شي.

5- دا جرګه د افغانستان پر اوسني انساني ناورين باندې خوابښيني څرګندوي او د ملګرو ملتونو او ګاونډي هېوادنو څخه غوښتنه کوي چې هغوی دې د انساني ناورين ښکار افغان اولس سره هر ممکن کومک وکړي او د افغان کډوالو او بې کوره خلکو سره دې قانوني او انساني چلن وکړل شي.

6- دا جرګه غوښتنه کوي چې د میانوالي او اټک بشمول خیبرپښتونخوا او د جنوبي پښتونخوا په خاوره دې مشتمله متحده قومي صوبه جوړه شي، او تر هغه پورې چې د پښتونخوا متحده صوبه جوړیږي د بلوچستان صوبه کښې دې د ژوند هره شعبه کې د پښتنو او بلوڅو تر منځ برابري ومنل شي.

7- پر پښتونخوا وطن د تېرو څو لسیزو څخه راتپل شوي جنګ په هکله " د حقایقو د لټون او د مفاهمت کمېشن" (Truth and Reconcilliation Commission) دې جوړ کړل شي او د جرګې په سرپرستی کې دې " د حقایقو



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لټون میشن" (Facts Finding Mission) جوړ کړل شي او په کراچۍ کې دې د ۱۲م مۍ ۲۰۰۷ د پښتنو په وژنه دې یوه تحقیقاتي کمېټۍ جوړه کړل شي.

8- د ملي شهید عثمان کاکړ، عارف وزیر، ارمان لوڼي، اسد اڅکزي او د نورو قامي شهیدانو د وژنې تحقیقات دې د جسټس قاضي فایز عیسا په سربراهۍ کې د باور وړ جوډیشل کمېشن په ذریعه وشي او رپورټ دې اولس ته وړاندې کړل شي.

9- د پښتونخوا وطن پر ټولو قدرتي وسایلو باندې د پښتون اولس قامي حق ملکیت ومنل شي. په دې هکله دې د پاکستان په ایین کې منل شوي مادو باندې په حقیقي توګه عمل درامد وکړل شي او د تېلو Oil ریفاینري دې په پښتونخوا صوبه کې جوړه کړل شي.

10- دا قامي جرګه په ډیورنډ کرښه باندې اغزن تار په سختې سره ردوي او غوښتنه کوي چې په کرښه ټوله تاریخي تجارتي لارې دې د تجارت او د کرښې په دواړو غاړو د



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابادو خلکو ازادانه تګ راتګ لپاره د څه کاغذي اسنادو او کوايفو بغېر يقيني کړل شي.

11- په پښتونخوا وطن کې په ځنګلونو، غرونو، مځکو، معدنياتو پر ذخايرو او سرکاري و غېرسرکاري عمارتونو باندې د عسکري او سرکاري ادارو قبضه دې په فوري توګه ختم کړل شي.

12- پښتون وطن کښې دې خواره کړل شوي ماينو Land Mines پاک کړل شي.

13- پښتو ژبه دې د پښتونخوا وطن قامي، دفتري او تعليمي ژبه وګرځول شي او د پښتونخوا وطن ټولې مورنۍ ژبې دې د تعليم ذريعه وګرځول شي. په اتلسم اييني ترميم کې د نصابِ تعليم د وضع کولو اختيارات صوبو ته ورکړل شوي دي مګر موجوده حکومت هغه حق غصب کړی دی، دا جرګه غوښتنه کوي چې مرکزي حکومت دې د نصاب تعليم اختيارات بېرته صوبو ته حواله کړي او واحد قومي نصاب د پلي کېدو لاره دې وتړل شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



14- د پښتونخوا وطن دا نماينده جرگه سفارښتنه کوي چې په تعليم، اقتصاد، سياست او کلتوري چارو کې د ښځو د گډون پرته هېڅ يو قام پرمختگ او سيالي نۀ شي کولی، پښتنې ښځې چې د تاريخ په اوږدو کې د ژوند په هر ډگر کښې د سړيو سره اوږه په اوږه درېدلې دي خو له بده مرغه د جهالت، ناخواندگۍ، د غلطو رسمونو او د اسلام د مقدس دين د غلطو تشريحاتو په ذريعه ښځې د خپلو بنيادي انساني حقوقو حخه بې برخې کړل شوې دي دا جرگه غوښتنه کوي چې، د قوانينو د جوړولو او منفي رسمونو د مخ نيوي سره سره په سياسي، اقتصادي او فرهنگي چارو کښې د ښځو گډون لپاره لارې هوارې کړل شي.

15- دا نماينده جرگه په ۲۰۱۷ کې ترسره شوې سرشمېرنې (Census- مردم شماری) کښې شوې درغلي ردوي او دا غوښتنه کوي چې د نوې سرشمېرنې لپاره دې د بين الاقوامي اصولونو تحت يؤ ازاد، شفاف او همه شموله طريقه کار (مېکنزم) جوړ کړل شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



16- سېنيټ ته دې په فنانس بل او نورو شعبو کې د قامي اسمبلۍ برابر اختيار ورکړل شي او د سېنيټ انتخابات دې د براه راست ووټ په لارې وکړل شي.

17- دا جرګه غوښتنه کوي چې د اباسين د اوبو معايده سن ۱۹۹۱ باندې دې نظرثاني وشي او پښتونخوا ته دې د مالک او سرورخ په توګه د خپل کلي ضرورياتو لپاره برخه ومنل شي.

18- د دې تر څنګ دا تاريخي قامي جرګه د غازي بهرو ته د نهر په بهانه د اباسين د اوبو د خپل فطري لارې نه اړول غېر اييني او د عالمي اصولون صريحاً خلاف ورزي بولي او جرګه وايي چې اباسين دې په خپله زاړهٔ او فطري لار بحال کړل شي.

19- دا جرګه پرېکړه کوي چې د دهشتګردۍ په آړ کښې ماورائې عدالت قتلونه دې بند کړل شي، لا درکه خلک دې خوشي کړل شي، بې کوره کړل شوي خلک ( IDPS) دې په خپلو علاقو او کورونو کې د ابادولو بندوبست او د دوی د تاوانونو پوره پوره معاوضې ورکړل شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



20- په سياسي عمل دې لګول شوې اعلانيه او غېراعلانيه بنديزونه ختم کړل شي. علي وزير، حنيف پښتين، اوېس ابدال، قاضي طاهر او نور ټول سياسي قېديان دې ازاد کړل شي.

21- چشمه ليفټ کېنال دې په فوري ډول تعمير کړل شي.

22- پښتو ژبه، تاريخ ادبيات او هنرونه د څلوېښتو کلونو راتپل شوي جنګونو له کبله د تباهۍ د خطر سره مخامخ دي او اوس هم تر استعماري يرغل لاندې دي، دا نماينده جرګه ژمنه کوي چې د خپل وطن څخه په استبداد او قبضه ورکوي، دا قامي جرګه د حکومتي او غېرحکومتي پښتون دوښمن مېډيا له لارې د پښتون افغان وطن منفي تصويرکشي په فوري توګه بند کړل شي.

23- تمباکو دې د نورو فصلونو په شان يؤ زرعي فصل وګڼل شي.

24- د ( Action in Aid of Civil Power Regulation) تور قانون دې په پښتونخوا صوبه کې په



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فوري توګه ختم کړل شي او د تحفظ، امنيت او انتظامي اختيارات دې ټول سيول انتظاميه ته وسپارل شي.

25- دا نماينده قامي جرګه د بجلۍ، اوبو، ګېس او نورو وسايلو په مد کې په وفاق واجب الادا رقم د پښتونخوا صوبې حق بولي او فوري ادايګي يې ضروري او لازمي بولي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرېکړه لیک

## پښتون قامي جرګه/ پېښور

## ۲۰۲۲ز کال د اګست ۱۶مه

## **کوربه: عوامي نشنل ګوند**

څلورمه جرګه بیا د عوامي نشنل ګوند لخوا د ۲۰۲۲ز کال د اګست پر ۱۶مه وشوه، چې د پښتنو قامپالو ګوندونو ترڅنګ نورو ګوندونو هم ګډون کړی وو، په جرګه کې لاندې پرېکړې وشوې:

1- امن امان ساتل د ریاست ذمه واري ده، دا جرګه باید پرېکړه وکړي چې پښتون قام به په شریکه ریاست دې ذمه واری ته مجبوروي.

2- دا جرګه به د هدفي وژنو او د پېښور د متاثرینو سره خپله مرسته او اواز شریکوي، نه یوازې به ددوی لپاره د



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



انصاف يقيني کولو په کار کې هر ممکن ګام اخلي بلکې په پښتون وطن کې د هدفي وژنو پيښنو ته د پاليسي د ټکي اينودلو لپاره رياست ذمه وار ګرځوي، دا جرګه به اعلان کوي چې په هيڅ يوې هدفي پيښه کې د نامالوم جواز نور د منلو وړ نه دی، دا په ډيره څرګنده توګه د رياست پر سر ده.

3- له هرې ترهګرۍ ډلي سره يوازې هغه مزاکرات موږ ته د منلو وړ ګرځېدلی شي چې د پارلمان په فلور ورته د منتخب نمايندګانو بلخصوص پښتون سياسي او ټولنيز مشرتابه بشپړ تاييد حاصل وي.

4- دا جرګه په رياست ږغ کوي چې جنګي اقتصاد د فعال ساتلو لپاره به ډير په پراخه کچه د بهته خوريو عمل روان دی، دې عمل ته دې په هنګامي بنيادونو د پای ټکی کېښودل شي.

5- دا جرګه غوښتنه کوي چې بې درکه پښتانه دې عدالتونو ته وړاندې کړل شي، له دې جبري بې درکی دې قانوني جرم وګڼل شي او په پښتونخوا کې دې ټولي عقوبت خانې په سمدستي توګه بندې کړل شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



6- د ایکشن ان اینډ اف سېول پاور استعماري اردینس په پښتونخوا کې له تېرو درېو کلونو نافذ دی، دا جرګه غوښتنه کوي چې استعماري اردینس دې ختم کړل شي.

7- دا جرګه غوښتنه کوي چې په نویو ضلعو کې دې اختیارات سویلین ادارو ته وسپارل شي، او پښتونخوا کې دې د قانون نافذولو ټول انتظام پولیسو ته وسپارل شي.

8- دا جرګه غوښتنه کوي چې د پښتونخوا د نویو ضلعو بې کوره شوي پښتانه دې بحال کړل شي، ددوی د تاوانونو تلافي دې په حقیقت کې وکړل شي.

9- دا جرګه غوښتنه کوي چې پښتنو پر جایدادونو او ملکیتونو هر ډول قبضې دې ختم کړل شي.

10- دا جرګه غوښتنه کوي چې د پښتنو تجارتي لارې دې سمدستي او مستقله توګه خلاصې کړل شي.

11- دا جرګه غوښتنه کوي چې سیاسي کارکنانو او لوستي ځوانانو ته دې ګواښونه سمدستي بند کړل شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرېکړه لیک

## پښتون قامي جرګه/ خیبر

۲۰۲۴ز کال د اکتوبر ۱۱مه

**کوربه: پښتون ژغورنې غورځنګ**

پنځمه جرګه د پښتون ژغورنې غورځنګ لخوا د ۲۰۲۴ز کال د اکتوبر پر ۱۱مه د پېښور په خېبر سیمه کې راوغوښتل شوه، دا جرګه د پښتنو په تاریخ کې تر ټولو لویه جرګه وه چې څورلس لکه پښتنو ګډون پکښې کړی وو په دې کې پنځلس زره مشرانو درې ورځې ځانته ناسته کوله چې د پښتنو پر حالاتو یې خبرې کولې او وروسته یې ۲۶ پرېکړې وکړې، او یوه اتیا کسیزه جرګه



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ټولو پښتنو سيمو نماينده ګي پکښې ده يوه مستقله جرګه يې جوړه کړه:

1- جرګې پرېکړه وکړه چې پدې وطن هيڅ جنګ او شخړه نشته خو پاکستاني فوج او وسله وال تنظيمونه چې طالب، داعش او نور په بېلابېلو نومونو يادېږي په ۶۰ ورځو کې له پښتونخوا څخه ووځي که ونه وتل قام به يې د اوباسلو لپاره خپل بندوبست کوي.

2- ددې جرګې د پرېکړو عملي کولو لپاره به د هرې ضلعې او سياسي پارټۍ لخوا درې درې زره ځوانان چې ټول دوه لکه څلوېښت زره کسان راځي قامي لښکر ته ورکول کيږي، دا به غيرې مسلح او پر امن طريقه سره د مسايلو حل لټوي.

3- پدې خاوره چې څومره وسايل دي ددې وسايلو په اړه جرګې پرېکړه وکړه چې د اتيا کسانو يوه کمېټۍ جوړه کړي له دوکۍ سنځاوۍ نه را واخله تر کوهستان چتراله پورې ټولو سيمو ته به ځي او د ټولو وسايلو مالومات به راخلي، چېکينګ



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



به کوي چې کوم وسایل د ولسونو په ګټه دي هغه وسایل به پرېږدي، او په کومو وسایلو چې څوک غاصب شوی دی هغه به پر هغه ځای بندوي.

4- جرګې پرېکړه وکړه چې ددې وطن د شهیدانو لپاره د لا درکو خلکو لپاره او د غاصب شویو ځمکو لپاره په به شریکه د پښتون وطن نماینده وکیلان راټولوي، هم به دلته په عدلتونو کې ټولو میسنګ پرسنز خلکو ته دغه جرګه وکالت کوي او هم به په انټرنشنل کریمنل کورټ او UN کې د خپل ملت د ورکو خلکو، شهیدانو او غاصب ځمکو مقدمه جنګوي.

5- جرګې پرېکړه وکړه چې بجلي د پښتون وطن پیداور دی په قبایلي سیمو کې اعلان دا دی چې بجلي به مفته وي، خو د مفتو دا مانا نده چې بجلي به نه وي، په نورو سیمو کې دوی تر ۶۰ زیاتې روپۍ اخلي له دې وروسته به یوازې پنځه روپۍ ورکوي، خو که چېرې د بجلۍ د بندېدلو یا لوډشډینګ عمل وشو جرګه به په شریکه د هغو تارونو د پرې کولو پرېکړه کوي چې نورو صوبو ته بجلي انتقالوي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



6- جرګې پرېکړه وکړه چې په ډيورنډ کرښه باندې چې څومره د تګ راتګ دروازې او لارې دي، له 1893 نه واخله تر 2010 پورې چې پښتنو افغانانو ته په کومو قوانينو باندې د تګ راتګ اجازت وو، بغير له پاسپورټ او ويزې هغه به بيا بحال کيږي، که چيرې دا پرېکړه عملي نشوه نو په ډيورنډ لاين باندې چې د کيسټم کوم دفترونه دي جرګه به د هغې مخې ته کښيني او هغه به بندوي.

7- جرګې پرېکړه وکړه چې د پښتنو په منځ کې چې د قبيلو او يا فرقو کومې شخړې دي ددې د حل کولو لپاره جرګې خپله جرګه وټاکله دا به ټولو ضلعو ته ځي خصوصي کرم ضلع ته.

8- جرګې پرېکړه وکړه چې نن نه پاس که ورديي واله وي يا بغير د ورديي يوه روپۍ بهته خوري به نه ورکوئ او که چېرې چا ته د بهته خوري کال کيدو يا يې په زور ترې اخيسته د قام ملت به ټول هغه سره ودريږي.

9- جرګې فيصله وکړه چې څومره ای ډي پيز دي، کډوال دي په پښتون وطن کې دوی دې ورځ وټاکي جرګه او قام به ورته په سر وي خپل کلي ته به يې رسوي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



10- جرګې پرېکړه وکړه چې په پنجاب سيند او نورو فدرالي سيمو کې چې له پښتنو زده کوونکو سره مزدورانو سره او نورو پښتنو سره کوم امتيازي سلوک کيږي هغه د بند کړلی شي خو که چيرې پدې بنياد د پښتون سره بد سلوک کېده دا جرګه به له ټول قام سره هلته ورځي.

11- جرګې پرېکړه وکړه چې ددې وطن کومه پخوانۍ عمراني ماده يعني چې وه نور د چليدلو ندی، نوې عمراني ماده دې د ولسونو د مشرانو په خوښه وليکل شي.

12- جرګې پرېکړه وکړه چې قبايلي علاقو ته چې د کومو مرستو اعلانونه شوي وو هغه د ترسره کړل شي.

13- جرګې پرېکړه وکړه چې د موجوده پاکستان ايين ۲۴۴ فوج په سياست او انتظامات کې مداخلت نشي کولای کوم چې دوی کړی دا همدغې ايين د ارټيکل ۶ په بنياد دې ددوی پرضد کاروايي وشي.

14- جرګې پرېکړه وکړه چې د c2161 ارټيکل مطابق چې د بجلۍ کوم پوروونه پاتې دي هغه دې په پوري توګه پښتونخوا ته ورکړل شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



15- جرګې پرېکړه وکړه چې پښتانه هيڅ ملټري کورټ او انټرمنټ سنټر نه مني او دغه دې په سمدستي ډول ختم کړل شي.

16- جرګې پرېکړه وکړه چې ۱۵۸ مطابق د قدرتي ګېس او ۱۹۹۱ د اوبو ځومره حق دی دا ددې وطن دی هغه د ورکول شي.

17- جرګې پرېکړه وکړه چې بلاک شناختي کارډ دې په فوري طور باندې خلاص کړل شي، که يې نکړل بحال بيا به ټول پښتانه د خپل شناختي کارډ مطابق نوی اعلان کوي کيدای شي ټول يې ور واپس کړي.

18- جرګې پرېکړه وکړه چې ځومره سياسي قيديان دي هغه د فوراً رها کړل شي، پدې ځو ورځو کې چې د جرګې په بنياد نيول شوي خلک دي هغه له علي وزير نه واخله تر جمشېد پورې چې د ځومره ضلعو خلک دي هغه دې فوراً رها شي.

19- جرګې پرېکړه وکړه چې پدې جرګه کې د شرکت په بنياد يا پدې جرګه کې د ځای ورکولو په بنياد يا د کومک پر بنياد د



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو فرد په خلاف هم چا کاروايي وکړه بيا به دا جرګه داسې يوه پرېکړه کوي چې څوک به يې تصور هم ونکړي.

20- جرګې پرېکړه وکړه چې ايکشن اېنډ اف سېول پاور دا يو تور قانون دی چې په پښتنو نافذ دی، دا دې په فوري طور باندې له دې وطن څخه ختم کړل شي.

21- جرګې پرېکړه وکړه چې د پښتون وطن يو روايت داسې دی چې بدمعاشي او بدي به نرينه وکړي خو په بدل کې به يې خور يا ورېره په سزا کې هغه ته واده کړي، دې جرګې پرېکړه وکړه چې دا روايت نور ختم دی.

22- جرګې يو خواست وکړ چې په بر وطن کې دې نجونو ته د زده کړو اجازه ورکول شي.

23- جرګې پرېکړه وکړه چې راتلونکی اتوار به ددې جرګې په حمايت او د ظلم او جبر خلاف به ټولې ضلعې او سياسي پارټۍ به په يوځای د هرې ضلعې په صدر مقام را وځي.

24- دلته په سټېج د خيبر پښتونخوا وزير اعلی علي امين ګنډپور ناست دی موږ ده ته دغه مطالبه کوو چې ددې جرګې کوم



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکونه چې د ايين مطابق ددې وطن حق جوړيږي له اسمبلۍ نه بيل ورته پاس کړه.

25- جرګې پرېکړه وکړه چې په پي ټي ايم باندې کومه پابندي لګول شوې هغه دې په فوري طور باندې لرې کړل شي.

26- جرګې پرېکړه کړي چې دلته کوم شهيدان وشول د چا په امر چې وشول يا څوک پکښې ملوث دي جوډېشل کميشن دې ورته جوړ شي او سزا دې ورکړل شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرېکړه لیک

## پښتون قامي امن جرګه/پېښور

۲۰۲۵ز کال د جولائي ۲۶مه

**کوربه: عوامي نشنل ګوند**

دا جرګه د ۲۰۲۵ز کال د جولائي پر ۲۶مه په باچاخان مرکز پېښور کې وشوه، کله چې د ۲۰۲۵ز کال د جولائي پر ۱۰مه وسله والو ترهګرو د پښتون قام خواخوږی، د پښتنو د وسایلو خیرونکوی او د عوامي نشنل ګوند غړی عالم دین مولانا خانزیب په باجوړ کې شهید کړ، بیا د هغه په فاتحه کې د عوامي نشنل ګوند مشر ایمل ولي خان وویل چې موږ به د جولائي پر ۲۶مه په باچاخان مرکز کې د پښتنو



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه قامي امن جرګه راغواړو، په دې جرګه کې پښتون ژغورنې غورځنګ، پښتونخوا ملي عوامي ګوند، مزدور کسان ګوند، عوامي نشنل ګوند، پښتونخوا نشنل عوامي ګوند، ملي جمهوري غورځنګ، تحريک انصاف ګوند، مسلم ليګ (ن)، پيپلز ګوند، جماعت اسلامي، جمعيت علماء اسلام او نورو ګوندونو ګډون کړی وو، چې په جرګه کې لاندې ۲۸ پرېکړې وشوې.

1- جرګه مولانا خانزيب ته د پښتون قام او ددې خاورې ملي شهيد درجه ورکوي، او له مرکزي حکومته غوښتنه کوي چې په لس ورځو کې دې د سپريم کورټ د جج تر مشرۍ لاندې يو جوډيشل کميشن جوړ کړي، ترڅو دا خونړۍ پېښه په شفافه توګه وڅېړي.

2- جرګه د صوبې له ټولو سياسي ګوندونو غوښتنه کوي چې د خپلو مشرانو نه جوړه يو جرګه جوړه کړي، چې د امن لپاره دې د عسکري اسټبلشمنټ سره سنجيده خبرې وکړي، او ورته واضحه پيغام ورکړي چې پښتونخوا نوره بدامنۍ نشي



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زغملی، زموږ خاوره نور د نړیوالو جګړو ډګر نشي جوړېدلای.

3- جرګې دا فیصله هم وکړه چې د روانې بدامنۍ خلاف یو احتجاجي تحریک پیل شي، او د ټولو سیاسي مشرانو نه جوړي شوې کمیټې دې اسلاماباد یا راولپنډۍ کښې د پرامن احتجاج اعلان وکړي.

4- جرګه غوښتنه کوي چې د آئین اتلسم ترمیم دې په ریښتینې توګه عملي شي، او ددې ترمیم خلاف هر ډول سازش دې ودرول شي، این ایف سي ایوارډ هر پینځه کاله پس لازمي دی – جرګه یې سمدلاسه اجرا غواړي.

5- جرګه هر ډول تشدد ردوي – هر چاته او هر نوم ته چې وي، دا مضحکه توپیر، چې څوک "ښه" ترهګر او څوک "بد" ګڼل کیږي، باید ختم شي، ریاست ته پکار ده چې ټولې وسلوالې ډلې له منځه یوسي.

6- جرګه دا باور لري چې ریاست دې د جنګي اقتصاد او د تزویراتي ژورې پالیسۍ نه لاس واخلي، نیشنل ایکشن پلان چې په ۲۰۱۴ کې جوړ شوی و، باید په بشپړ ډول عملي شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



7- جرګه غوښتنه کوي چې په پښتونخوا کې نافذ "ایکشن ان ایډ آف سول پاور" غیرانساني قانون دې ختم شي، ورک شوي کسان دې عدالت ته وړاندې شي، او جبري بې درکه کول دې قانوني جرم وګرځول شي.

8- ټول اختیارات دې سمدستي سول ادارو ته وسپارل شي، او د امنیت واک دې یوازې پولیس ته ورکړل شي.

9- جرګه په پوره وضاحت سره د یو بل پراکسي وار مخالفت کوي، زموږ خاوره نوره د نورو د جنګ ډګر نشي پاتې کېدلای.

10- جرګه وایي چې دا بدامني د یو څو کسانو د معاش ذریعه جوړه شوې ده ـــ دا ذریعه دې بنده شي، او دا کسان دې عدالت ته راوستل شي.

11- د ترهګرۍ او اپریشنونو له وجې وران شوي سړکونه، سکولونه، بازارونه، او کورونه دې بېرته جوړ شي، او بې کوره کړل شوي خلک دې خپلو سیمو ته ستانه کړل شي.

12- جرګه وایي چې پښتنو ته تر ټولو زیات زیان رسېدلی دی، ترهګریزې ډلې بیا فعاله کېږي، او ریاست دې دا عمل



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمدلاسه بند کړي، او د هر ډول شخصي وسله والو ډلو پرضد دې قانوني کاروايي وکړي.

13- د تېر دور اپریشنونو تاوان دې ادا کړل شي، زیانمنو ته دې معاوضه ورکړل شي، او د کار روزګار موقعې دې برابرې شي، له باجوړ نه تر چتراله، پښتانه سخت متاثره شوي دي – دا نقصانات دې زر تر زره جبران شي.

14- پاکستان دې د نړۍ د سترو طاقتونو ترمنځ جګړه کې بې طرفه پاتې شي – دا خاوره نوره د پردو جګړو قرباني نشي جوړېدلای.

15- پاکستان دې له ټولو ګاونډیانو سره ښې او برادرانه اړیکې ولري، ترڅو سیمه ایز امن، تجارت، او خوښي راشي.

16- له افغانستان سره ټولي تجارتي لارې دې تلپاتې او سمدستي خلاصې کړل شي، او ددې انتظام دې د صوبې اختیار ته وسپارل شي.

17- ولسي واکمنۍ ته دې ترجیح ورکړل شي – پارلمان دې د هېواد د پالیسیو مرکز وګرځي، او سیاست کې دې غیر جمهوري مداخلې بندې شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



18- وفاق دې د صوبې پاتې رائلټۍ ادا کړي، نوی NFC ايوارډ دې عملي شي، او د ضم شويو ضلعو لپاره ژمن شوي ۱۰۰ ارب روپۍ، يوه يونيورسټي هر ضلع کې، او د لسو کالو ټېکس معافي دې ورکړل شي.

19- د ترقۍ او نظامي کارونو واک دې منتخب نمايندګانو او سول ادارو ته وسپارل شي.

20- د انضمام نه وړاندې شوي تړون له مخې، ۲۲ زره خاصه داران دې په دندو وګمارل شي.

21- ضم شويو ضلعو کې دې د ښځو تعليم ته خاص پام وشي – هلته د ښځو د تعليم شرحه صرف درې فيصده ده – تعليمي ادارې دې جوړې شي.

22- د بيا ابادۍ لپاره دې سروې وشي، او د معاهدې له مخې، سړکونه، هسپتالونه او تعليمي ادارې دې بېرته جوړې شي.

23- تري جي، فور جي او موبايل سروس دې سمدلاسه بحال شي.

24- چيک پوسټونه چې د ولس لپاره عذاب ګرځېدلي دي، ژر تر ژره دې ختم کړل شي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



25- د ځمکو ریکارډ دې ډیجټل شي.

26- د ضم شویو ضلعو لپاره ځانګړې تعلیمي کوټې (سیټونه) دې عملي شي، او د هائیر ایجوکیشن سکالرشپونه دې بحال شي.

27- د فرنټیئر کانسټیبلري (FC) بنیادي حقداران پښتانه دي – دا ځواک دې وفاق ته نه، بلکې صوبې ته پاتې شي.

28- وفاق کې چې کوم واړه قامونه آباد دي، د هغوی پخواني محرومیتونه دې ختم کړل شي، او د آئین د اتلسم ترمیم لاندې اختیارات دې صوبو ته ورکړل شي.


# پای

۲۰۲۴ز کال د ډسمبر ۱۴مه



Scanned with CamScanner

(c)



Scanned with CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**